**اصل مضمون معطل: ۹۶/ ۹۸**
**فولدر مضامین رد شده۱۳۹۸:**

# دټولو افغانانو تر منځ پیاوړی ملی وحدت نیکمرغه سوله منځته راوړي

شاه محمود درویش

زمونږګران هیواد سرلوړي افغانستان او پټمنوهیوادوالو دپردیوپه لمسون دتیرو کابو دریوسیزو دپرله پسی خونړیوجګړوپه ترڅ کی واقعاً له مادي اومعنوی پلوه سترزیانونه لیدلی دی ، خودریغا چی نن هم ددغه بدمرغه او ناولی جګړی اورونه بیاهم دپردیو په لمسون زموږ په هیوادکی بل دی اودهمدغه ناوړی جګړی په ترڅ کی یوازی ګران افغانستان وران او ویجاړیږی او په هره لـوری کی هم یوازی افغانان وژل کیږي پردی اساس سالم عقل اورغنده سپیڅلی احساس داحکم کوی چی ټول افغانان باید پرته دهرډول توپیرونو سره لرلویومتی شی او دګران هیواد دابادی اومظلومو افغانانو دهوساینی په موخه باید هرهغه افغان چی وسـلی تـه یـې لاس وغورځولی خپله وسله پرځمکه کیږدی او دافغانستان و اسلامی دولت دټولنی له را روان بهیر سره دی یوځای شی ، ځکه ټوله ، دنیکمرغه ژوند او بشړی هوساینی روښانه انځوردی اوهرافغان هم دټول هیوادکی دټولی دتینګښت هیله لری ، په حقیقت کی سرلوړی افغانستان یو واحد ملت دی چی په هغه کی مختلف قومونه دکلونوکلونوڅخه را پـه دی خوادبشـړی وروروليـ او اسلامی اخوت په فضاکی سره ژوندکړی او تل دهر ډول ګواښونو پروړاندی چی دافغانستان ددښمنانو له خـوا هیوادتـه متوجـه شوی ټولو افغانانو دملی وحدت په عالی روحیه دهغوپه وړاندی مبارزه کړی او بریالیتوب تـه رسـیدلی اودسـرلوړی افغانسـتان لرغونی تاریخ هم دباتورو افغانانو تاریخی ویاړنی اوکارنامی تل له ځانه سره لری ، پردی اساس که نن هم چیری ټول افغانـان پرتـه دهرډول توپیرونو دملی یووالی په رستیـ خپلی منګولی ښخی کړی له شک پرته چی پـه مختلفـو برخـوکی نیکمرغـی ، ترقـی او پرمختګ به ددوی په برخه شی ،نو واقعاً ملی یووالی هغه وخت کلک او همیشنی پاتی کیږی چی په هیوادکی ټول میشت وررونه ، قومونه دهیواد ملی ګټوته وفاداروی او ددولت له لوری هم دټولومیشتو ،وررونو ، قومونوترمنځ هیڅ راز توپیر منځته رانـه شـی ، بلکی په مساوی ډول دټولو حقه حقوق پرته دکوم ژبی ، نژاد ، سمت ، ګوند ، تنظیم او •••

تامین او دی ټولو اړتیاوته دامکان ترحده مثبت ځواب وویل شی ، خوتر ټولو نه اړینه بیا داده چی افغان مظلوم او پټمن ملـت دتیروکلونو په لړکی دپردیو په لمسون دبد مرغه جګړی کوربه واوله بده مرغه چی نن هم د ناوړی جګړی لمنه زموږ له هیواد څخه نه ده را ټوله شوی او واقعیت بیا دادی چی په دغه جګړه کی یوازی افغانان وژل کیږی او ګران افغانستان هم دتباهی او بربادی په لوری راکښل کیږی ، پردی اساس افغان مظلوم ، پټمن او باتور ملت په هیوادکی دنیکمرغه سولی ، دټینګښت په موخه دافغانستان داسلامی دولت دتولی دبهیر ملاترکوی او په دی باب دټولو

وسله والومخالفینو اومرورو وررونو څخه ددی هیله لری چی هیواد اوهیوادوالو ته دصادقانه خدمت او دګـران افغانسـتان دابادی او سمسورتیا په موخه خپلی وسلی پر ځمکه کیږدی او دسولی له بهیرسره یوځای شی دیادونی وړده چی دهیواد ولسمشر ښاغلی حامدکرزی په خپلی یوی وینا کی دسولی په هکله داسی ویلی دی : اقتصادی ،او اجتمـاعی پرمختیـا دیـو ولسـواک او عادلانه نظام تحقق دسولی له تامینه پرته امکان نه لری او سولی ته رسیدل هم یوازی دجنګ لـه لاری نـه کـیږی ، دهیـواد دملی شخصیت جناب حضرت صاحب ترمشری لاندی دسولی دتحکیم کمیسیون ،

دمخالفینو دجذب او پخلاینی په لاره کی ډیری مثمری برياوی درلودی ،دسولی دنامین او دپخلاینی دبهیرپه چټکیا کی دجناب حضرت صاحب مخلصانه هلی ځلی دډیری ستاینی او مننی وړدی ، دسولی مشورتی جرگی موږته توصیه وکړه چی له طالبانو او نورو ټولو مخالیفینو سره دخبرواو روغی جوړی له لاری یو تفاهم ته سره ورسیږو او په هر ممکنه وسیله چی کیږی روانو بدبختیو او جنګ ته خاتمه ورکړو ، دهیواد فاضل او خیر خوا ه شحصیت استاد برهان الدین ربانی په مشری دسولی عالی شورا جوړه شوه او سولی ته درسیدو لپاره په فعاله توگه هلی ځلی کوی ، زه یوځل بیا پرټولو هغو افغانانو چی وسله په لاس او دخپل هیواد په وړاندی جنگیږی غږکوم او بلنه ورته ورکوم چی جنګ پریږدی او دروغی جوړی له روان بهیر سره ملگری شی دافغانستان حکومت ځان مکلف بولی چی ترهرڅه دمخه دسولی دتحقق لپاره خپلی هڅی منسجمی،پیاوړی او ګړندی کړی ، موږځان مکلف بولوچی خپل هیواد ته سوله راولو او جنګ څو مره ژرچی کیږی پای ته ورسوو ، له تروریزم سره دی هغه ځای مبارزه وشی چی بې ريښی او ځالی – یې هوری دی ، دا جنګ زموږ په کليوکی نه دی او نه هم دلته کامیابیدای شی ، یو ویشتمه پیړۍ موږ افغانانو ته خاصه معنی لری ، په ډیرو دلایلویو ځل بیا زموږ هیواد ومعاصری نړۍ دجیوپولټیکی کړکیچ او سیالیو په یوه مرکز بدل شوی دی ، له یوی خوا زموږ هیواد اودسیمی نور هیواد ونه له خطر ونوسره مخ دی او له بلی خوا یوستر تاریخی فرصت لرو چی استفاده ځینی وکړو ، له دی ستر تاریخی فرصت څخه استفاده دافغانستان دخلکودملی اداری له تبلوراو په سیمه کی دیوه قومی او ځواکمن حضور له امکان سره مستقیمه رابطه لری ، پیاوړی او ځواکمن حضور دملی حاکمیت دتحقق ، دهیواد دامنیت او استقلال ددفاع دتوان له درلود و پرته ناممکن پریښی ، له شک پرته چی دهیواد دجمهور رئیس ویناد بشپړواقیعت څر گندو یه ده او جگړه ځپلی افغانان هم دزړه له کومی غواړی چی واقعاً ټول وسله وال مخالیفی اومرور ورونه ددی حقیقت په منلو چی روانه جگړه کی هم په دواړو لوروکی یوازی ددی هیواد بچیان وژل کیږی او گران افغانستان له هره پلوه وران او ویجا ړیږی ، وروسته له دی له هرراز وسله والو مخالفتونوڅخه لاس واخلی او دسولی له بهیر سره یو ځای شی ترڅو په گران افغانستان کی بدمرغه او ناوړی جگړه نور دتل له پاره پای ته ورسیږی او پر ځای ـ یې نیکمرغه سوله ټینگښت او پاییښت ومومی او وروسته له دی واقعاًدبدمرغه جگړی ناکار او ناخوالی هیڅ یوه افغانه کورنۍ دویراو ماتم ټغیر کښینوی،بلکی ټول افغانان دنیکمرغه سولی په څپانده ماحول کی له خپل هوت ، سوکاله او خوشحاله ژوندڅخه خوند واخلی .